SHARIAT

شریعت

په اوونی کي دوه ځله خپریږی

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان

پنځم کال دري شپیتمه ګڼه پرله پسي (۳۵۰) شنبه د ۱۴۲۱ هـ ق کال دجمادي الثاني (٤)

د ۱۳۷۹ هـ ش کال د وږی دمیاشتی (۱۲) د ۲۰۰۰ میلادي کال د سپتمبر (۲)

په افغانستان کــــی هره ورځ ۳۰۰ تنه په ماینو مړه یا ژوبل کیږی

ملګـــری ملـــتونه د ماین پــــاکی په عملیاتو کی کموالی راولی

د امریکا غږ راډیو :

د ملګرو ملتو موسسه غواړی چی د ماینونو د پاکولو په عملیاتو کی کموالی راولی.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو د ماین پاکولو د پروګرام اداره وایی چی د روان کال د سپتمبر له نومړۍ نیټي نه په خپلو عملیاتو کی پنځوس فیصده کمی راولی.

دغی اداری د خپلی بودجی د غټی برخی د کمیدو اعلان کړی او ویلی یې دی چی کار کوونکو او مامورینو ته به هم بې معاشه رخصتی ورکول کیږی.

په دی فیصلی سره به په افغانستان کی په ځمکنیو ماینونو کی د خلکو تلفات نور هم زیات شی.

٤ مخ

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا (پرهیزګاری) ته . (سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

ازطرف بورد انسجام سرمایه گذاري :

ایجاد ۲۹ پروژه تولیدی تائید گردید

پروژه هاي مذکور شامل پروژه قالین بافي، یخ سازي ،طباعتي،مخابراتي ،مصنوعات پلاستیکي، تولید مواد ساختماني، روغن ، صابون سازي و تولیدات مشروبات غیر الکولي میباشد

سرمایه ابتدائي آن مبلغ چهل ملیاردونود و یك ملیون و سرمایه انتهایي اش مبلغ شش صدو شش ملیارد و دو صد و شصت ملیون تعین گردیده است

در این پــــــروژه هـــا برای تعــــــداد ۱۳۱۵ تن از هموطنان ما زمینه کار و فعالیت آماده میگردد

کابل - باختر : ایجاد ۲۹ پروژه تولیدي و خدماتي مورد تأیید بورد انسجام سرمایه گذاري خصوصي قرار گرفت.

جلسه بورد انسجام سرمایه گذاري خصوصي دیروز تحت ریاست محترم مفتي حبیب الرحمٰن حنفي معاون اداره مرکزي سرمایه گذاري ص ٤

در ولسوالي زرمت ولایت پکتیا :

یک مــــحراب مسجد جامع اعمار گردید

پکتیا - باختر :

یك محراب مسجد جامع اخیراً در مربوطات ولسوالي زرمت ولایت پکتیا اعمار و مورد استفاده نماز گذاران قرار گرفت .

مسجد متذکره که در ساحه یك جریب زمین به مصرف هفتصد ملیون افغاني به کمك اهالي زاره کوهي ولسوالي زرمت ولایت پکتیا به طور پخته و اساسي اعمار گردیده است در یك وقت گنجایش ششصد نماز گذار را دارا میباشد.

در محفل افتتاح مسجد مذکور ص ٤

در ولسوالي شکردره :

چـــــهار جریب زمین از بته هاي چرس پاکسازي گردید

کابل - باختر : به مساحت چار جریب زمین دیروز در مربوطات ولسوالي شکر دره ولایت کابل از بته هاي چرس پاکسازي گردید.

موظفین امر بالمعروف و نهي عن المنکر ولسوالي شکردره ولایت کابل دیروز به مساحت چار جریب زمین را که در آن ص ٤

د ده سبز په ولسوالی کی :

د شهیدانو دارالعلوم

د کابل ولایت د ده سبز ولسوالی د شهیدانو دارالعلوم پرون پرانستل شو.

په هغی غــونډه کی چی له همــدی امله دده ٤ مخ

به سلسله پیوستن قوماندانان مخالفین با مجاهدین اردوي اسلامي :

قوماندان سیـــد عـــلي با اردوي اسلامي پیوست

کابل - باختر : یکتن از قوماندانان مخالفین اخیراً با افراد مسلح اش در مربوطات ولسوالي نهرین ولایت بغلان با مجاهدین اردوي اسلامي پیوست .

به سلسله پیوستن قوماندانان مخالفین با مجاهدین اردوي اسلامي اخیراً ص ٤

بمنظور جلوگیري از شیوع مرض کولرا :

چا هاي ولایت سر پل کلوریشن گردید

چاه ها و حوض هاي آب آشامیدني ولایت سرپل از به منظور جلوگیري شیوع مرض کولرا کلوریشن گردید. کلوریشن. چاه ص ٤

معاون شاروالي ژنیو از مراکز فرهنگي و ابده هاي تاریخي کشور بازدید بعمل آورد

کابل - باختر : معاون اول شاروالي ژنیو و هیأت معیتي وي که در این اواخر وارد کابل گردیده است دیروز از موزیم ملي، منار عبدالوکیل ، گالري ملي، و مقبره عبدالرحمن خان بازدید بعمل آوردند.

در این بازدید در حالیکه محترم مولوي عبدالرحمٰن احمد هوتك معین کلتوري وزارت اطلاعات و کلتور ، محترم مولوي نقیب الله احمد یار رئیس موزیم و محترم رئیس پلان شاروالي کابل نیز حاضر بودند، خانم وان ص ٤

مجله فرهنگي ریاست اطلاعات و کلتور خوست از چاپ بر آمد

خوست - باختر : مجله سه ماهه علمي دیني ، ادبي و فرهنگي ریاست اطلاعات و کلتور ولایت خوست اخیراً از چاپ بر آمد.

در محفلیکه بهمین مناسبت تدویر یافته بود محترم ملا امیر خان متقي وزیر ص ٤

طي مسابقه ورزشي در ستدیوم ورزشي کابل :

تیم فوتبال پامیر بر تیم مهاجرین مقیم اسلام آباد غالب گردید

تیم فوتبال پامیر در مسابقه که عصر پریروز در ستدیوم ورزشي کابل با تیم مهاجرین ص ٤

به اثر انفجار ماین در سریلانکا :

۱۳ نفر هـــلاک گــــردید

منابع خبري بین المللي : سیزده نفر از قواي مسلح سریلانکا دیروز در اثر اصابت با ماین ص ٤

امریکا له صهیونیست رژیم سره پوځی مرستی کوی

د امریکا متحده ایالات په پام کی لری د راکټی ضد سیستم یو واحد صهیونیستی ضد رژیم ته واستوی.

نړیوالو خبری سرچینو پرون خبر ورکړ چی د امریکا د متحده ایالاتو دولت به د دی دلیل له مخی دغه اقدام وکړی چی ویره لری عراق په صهیونستی ص ٤

په سرخکانو کی :

یوه اندازه وسلی تر لاسه شوی

یوه اندازه وسلی او مهمات د سرخکانو د پوستی د امنیتی موظفینو له خوا کشف او تر لاسه شول.

په دغو وسلو او مهماتو کی د یارلس کلاشینکوفونه یوه ٤ مخ

محترم رئیس قضایاي امارتي ولایت هرات در مصاحبه با «شریعت»

تدقیق و تثبیت حقوق امارت و ملت در محور اهداف ما قرار دارد

شریعت : محترم ملا رحم الله امین رئیس قضایاي امارتي ولایت هرات طي مصاحبه با خبرنگار اعزامي ما پیرامون طرزالعمل و پیشبرد وظایف آن ریاست گفت :

ریاست قضایاي امارتي یکی از واحد هاي اداري وزارت محترم عدلیه بوده و طوریکه از نام آن پیداست وظایف مهم این اداره را بررسي قضایاي مربوط به امارت اسلامي تشکیل ص ٤

روند اعـــمار و باز ســـازي در مـؤسسات تحصیلات عـــالي

شریعت : علاقمندان محترم! خبرنگار ما به سلسله تهیه گزارشات خویش اینبار از بخش هاي مختلف وزارت تحصیلات عالي و مسلکي باز دید نموده و در مورد چگونگي و کیفیت کار هاي ترمیماتي و ساختماني که از دیر زمان قبل آغاز و تا کنون ادامه دارد مصاحبه را با محترم مولوي فضل الرحمٰن رئیس پلان وزارت تحصیلات عالي و مسلکي انجام داده است که توجه شما عزیز دوستان خوانندهء را به مطالعه آن فرا میخوانیم.

در آغاز محترم مولوي فضل الرحمن رئیس پلان وزارت تحصیلات عاي و مسلکي چنین توضیحات ارائه داشتند : طوریکه به همگان روشن و هویداست قسمت اعظم از ص ۲

فلیپینی پوځیان :

د مســـلمانو مبارزینو په خلاف پوځی عملیاتو ته تیاری نیسی

د فلیپین پوځی مقاماتو اعلام وکړ چی د دغه هیواد اردو د دی هیواد د مسلمانو مبارزینو په خلاف پوځی عملیاتو ته تیاری نیسی.

د فلیپینی مسلمانو مبارزینو له خوا د یوه امریکایی له یرغمل کیدو وروسته د دغه هیواد اردو ویلی دی چی په سوله ییزو لارو چارو باندی د نه بریالیتوب په صورت کی به د دغه هیواد په مبارزینو یرغل وکړی.

صهیونیستی غاصبو ځواکونو :

دلبنان په سرحدی اوسیدونکو ګولی واورولی

نړیوالی خبری سرچینی د لبنان او تر اشغال لاندی فلسطین په یوه سرحدی سیمه کی په لبنانی اتباعو باندی د صهیونیستی رژیم د پوځیانو له ډزو وروسته په دی سیمه کی حالات کړکیچن شوی دی.

د ډزو دغه پیښه د فاطمیه په سرحدی سیمه کی شوی ده . ٤ مخ

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

واقعیتونه را ښکاره کیږی!

ورمه ورځ د ترکمنستان استازی «شیخ مرادوف» په افغانستان کی د سولی د ټینګښت او د هغی د لارو چارو د څیړلو لپاره کندهار او کابل ته راغلی و او دلته یې د عالیقدر امیر المومنین او د اسلامی امارت د نورو مشرانو سره لیده کاته وکړل د سولی په هکله خو د پخوا په شان عالیقدر امیر المومنین په څرګندو ټکو ورته واضحه کړه چی مونږ تل په هر ځای او هر وخت کی د مخالفینو

۲ مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندی
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوي گڼي بيه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات :٦٢٨٥٩
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

سره خبرو اترو ته چمتو یو او په کلکه ددی غوښتونکی یو چی روانی ستونزی د مذاکراتو او تفاهم له لاری حل شی خو مهمه دا ده چی مخالفین او بهرنی مغرض هیوادونه واقعیتونه درک او نور د افغان ولس له کړولو لاس واخلی شیخ مرادوف په دی هکله وویل چی څو ورځی مخکی یی په تهران کی د ایرانی چارواکو سره کتنه کړی او موندلی یی دی چی هغوی هم اوس په دی قانع شوی چی باید د افغانستان د اسلامی امارت سره د یو لوی قوت په توگه معامله وشی، نو ځکه چی ایران پر مخالفینو ډیری اغیزی لری، ښایی نوی دریځ یی په‌افغانستان کی د سولی لپاره مثبتی پایلی ولری او دا ځکه چی د واقعیتونو په منلو د افغانستان ستونزه ډیره په آسانی سره حل کیدای شی . شیخ مرادوف د منځنی اسیا د ځینو هیوادونو په هکله چی خپلی ستونزی له اسلامی امارت څخه انگیری وویل : موږ باید واقعیتونه ومنو او د خپلو کورنیو مشکلاتو پره په بل چا وربار نه کړو اسلامی امارت په دغو پیښو کی هیڅ ډول لاس نه لری بلکی موږ خو دا کلکه منو چی له افغانستان سره زموږ پولی د ورورۍ او دوستی پولی دی او اسلامی امارت زموږ نیک گاونډی دی د ترکمنستان ځانگړی استازی په اقتصادی چارو کی هم د افغانستان سره د ډیرو مرستو او گډی ملگرتیا چمتو والی وښود او ویی ویل چی موږ به افغانستان او پاکستان ته د بریښنا د راغځولو پروگرام ډیر ژر عملی کړو ده د گاز نل لیکی په هکله وویل چی ځینو نړی والو کمپنیو ددی کار د ټیکی اخیستو چمتو والی ځرگند کړی او دا به سیمی ته ډیری اقتصادی برباوی راوړی او په ځانگړی ډول زموږ دا یقین دی چی ددی په پروگرام په پیل کیدو به په افغانستان کی ډیر ژر د جگړی تغر ټول او افغانان به د جنگ په ځای کار ته ملا وتړی او دا ځکه موږ تل په دی خبره ټینگار کړی چی د گاز نل لیکی په غځولو کی کومه خاصه ستونزه نشته او د جگړو بشپړ بندول یی ځکه شرط نه دی چی زموږ په خیال دا یو ډیر لوی اقتصادی پروگرام دی اوپه خپل طبیعت سره د جگړو په آرامولو کی اساسی اغیزی لری، د شیخ مرادوف خبری ښایی پر ځینو خواو ښی نه وی لگیدلی خو په هر صورت دا هغه واقعیتونه دی چی لا ډیر پخوایی انتظار کیده او نوموړی یی ښه په رښتینولی سره ځرگندونه وکړه .

همدارنگه زموږ یو بل گاونډی ایران چی ورو ورو حقیقت او واقعیت ته متوجه کیږی یو ډیر مثبت بدلون دی او موږ یقین لرو چی که د منځنی اسیا د هیوادونو ځینی خواشینی مشران همدغسی دریځ خپل کړی د بی ځایه تور او تهمت نه لاس واخلی او د مخالفینو وسله وال کول پای ته ورسوی هیڅکله به د اسلامی امارت له خوا یو داسی عمل ونه وینی چی د هغوی د خوابدی باعث وگرځی موږ په داسی حال کی چی د واقعیتونو په لور دغه بدلون نیک فال گڼو، په خپل وار یو ځل بیا د خپل دی دریځ پخلی کوو چی په هیواد کی د سولی د ټینگښت، د ځمکنی بشپړتیا، ملی سالمیت او د خبرو اترو له لاری د ټولو ستونزو د حل لپاره هر اړخیز چمتو والی لرو او تر وسه وسه به هلی ځلی کوو چی په هیواد کی پردی لاس وهنی غوڅی ، هیواد ودان او هیواد وال مو ښاد او سوکاله شی نو ښایی ټولی خوا وی د هیواد او خلکو دغه ملی گټی په ښه ډول په نظر کی ونیسی ، د هیواد او ملت د تجزیه کولو مخه ونیسی او له اسلامی امارت سره په دغو لوړو ارمانونو کی مرسته وکړی.

په مالیزیا کی د اسلامی گوند پر مختگ

د مالیزیا ټاپو وزمه په جنوب ختیځی اسیا کی د جنوبی چین او اندونیزیا تر منځ پرته ده مساحت یی ۳۲۹،۷۵۰ کیلو متره او د وگړو شمیر یی په ۱۹۹۹،۲۱۳۷٦٦٦ چی په سلو کی ۵۸٪ خلک یی مسلمانان دی.

په تیرو انتخاباتو کی د مالیزیا اوسنی صدراعظم مهاتیر محمد مطلق اکثریت تر لاسه او خپل حکومت یی اعلان کړ.

د مالیزیا په تر سره شویو انتخاباتو کی د مالیزیا اسلامی گوند PAS هم ښه بریالیتوب وگاټه او اوس په دی توانیدلی چی د مالیزیا په دوو لویو ایالتونو کلنتان او ترنگانو کی په حکومت جوړ ولوبر سیره په مرکزی پارلمان کی د حزب اختلاف رول هم ولوبوی.

د مالیزیا له آزادی نه و روسته دا لـیم انتخابات دی‌د نوموړی هیواد په‌اولسی جرگه کی د ځوکیو شمیر ۱۹۳ دی. پارلیان نشنل اتحاد ۱٤٨ ځوکی تر لاسه کړی د نوموړی اتحاد تر ټولو لوی تنظیم (برحال حکومتی گوند) یو ناټیسید ملی نشنل ارگنایزیشن له ۱۸ کالو څخه را پدیخوا په اقتدار دی، چی د سیکولر (لادین) نظریی لرونکی دی او اقتصادی پر مختگ خپل هدف گڼی د ۱۹۹۵ کال په انتخاباتو کی دی حاکم گوند ٩٤ ځوکی تر لاسه کړی وی او دا ځل یی په ۷۲ کرسیو بری موندلی د رایو فیصدی ۵۷ وه ملی چاینزایسوسی ایشن گوند چی د حاکم تنظیم حلیف او ائتلافی دی ۲۷ ځوکی یی گټلی، دیموکرات گوند ۱۰ ځوکی او پاتی نوری ځوکی وړو وړ گوند ونو

تر لاسه کړی د پخوانی لومړی وزیرانور ابراهیم میرمنی هم د خپل میړه له حلقی نه کامیابی لاسته راوړی د انور ابراهیم گوند ٤ تورو وکیلانو هم کامیابی حاصله کړی لیکن په تیریوالو رسنیو ادارو کی چی د نوموړی په اړوند څه تبلیغات وشول نو پدی سره د انور ابراهیم گوند ته صدمه رسیدلی.

د مالیزیا اسلامی گوند پدی ټاکنو کی پر ٤۲ حلقو کاندیدان و د رول او ۲۷ کرسی یی حاصلی کړی، د ملی اپادی نیمی رایی گیری حزب اختلاف تر لاسه کړی د مالیزیا په تاریخ کی د لومړی ځل لپاره د حاکم گوند او مخالف گوند مشران په ولسی جرگه (پارلمان) کی کار کوی کوم چی د حزب اختلاف یا مخالف گوند مشری ـ پار لمان کی د مالیزیا د اسلامی گوند نماینده کوی.

د اسلامی گوند بوه بله کامیابی داده چی دوی براځی دا نه چی په غریب ایالت کلنتان کی د دوهم ځل لپاره حکومت جوړوی بلکی د ترنگانو په ایالت کی یی هم ټولی ځوکی تر لاسه کړی چی په نوموړی ایالت کی د هیواد ٦٥ فیصده نفتی زیرمی وجود لری.

په ترنگانو کی د نوموړی گوند د کامیابی له اعلانیدو سره سم د شراب خانو او د نڅا ځایو څښتنانو د خپلو ځانو لپاره د بل کار وبار شروع کولو لټه پیل کړی .

(ایشیا ویک اوونیزه د دسمبر ۱۰مه ۱۹۹۹)

ژباړه : محمد الله نورستانی

په‌انتخاباتو کی د «پاس» متوقع پر مختگ د منځ کولو پخاطر مهاتیر محمد عوامو ته خپل معاشی او اقتصادی پروگرام (د انتخابی؛ رامایی سمبول) په‌څیر وړاندی کولو سره د شهرت لرونکو او وتلو رسنیو ادارو په‌وسیله ښه مضبوط او منظم کوښښ وکړ د اسلامی گوند په‌باره کی په خبری ذریعو کی وښودله شوه چی دوی تفرقه پال دی، چینایانو هندوانو او د مالیزیا نورو اقلیتو یا لږکیو سره د امتیازی سلوک کوڅکی دی.

میرمنی به په‌اجباری ستر مـ ـچوروی شراب خانو ، تفریح مرکزونو، د جواریو او دامی نورو ناروا اقتصادی پروژو مخالفین دی، او تر ټولو دا چی د کلنتان په‌ایالت کی کومه د یادونی وړ کامیابی کی اضافه والی نه‌راغلی د دغو پروپاگندو یا وجود د مالیزیا اسلامی گوند ښه په زړه پوری کاروایی وښودله .

د گوند مرستیال مصطفیٰ علی واضحه کړه : چی اقتصادی خوشحالی په اسلامی نظام سره ممکنه ده نه شکست خوړلی (اسیایی ټایگر طبقی) سره د اسلامی گوند مشرانو : حاجی مصطفیٰ علی، عبدالهادی اوانگ او سید ارمان احمد دا هم واضحه کړی چی په کلنتان او ترنگانو کی به له اقلیتو یا لږکیو سره کوم امتیازی

روش نه کیږی، په غیر مسلمو باندی دپخوانی ټکس یا مالیی په باره کی یی وویل : له پخوا څخه به هم ورسره گذاره کولای شی، مگر د میخانو، قیمار خانو یا د نورو ناروا کارونو په‌اسلامی نظام کی جواز نشته، د حجاب یا ستر په‌اختیارولو کی ښځی ازادی دی چی اختیار یی کړی د انتخاباتو له پایلو سره دغه حقیقت جوت کیږی چی په جمهوری فضا کی چی اسلامی احیا غوښتونکو ته موقع ورکړ شی نو د دوی د پرمختگ او ترقی ډیر امکانات وجود لری په‌زیاتو هیوادو کی د اقتصادی خوشحالی غوښتونکو او د اسلامی احیا غوښتونکو د اعیانو تر منځ ډیر کشمکش موجود دی لیکن چی کله د اسلام احیا پښتگان خپلی خبری رعیت او عوامو ته ورسوی نو دوی ته‌رای گیری او وتونه ورکول کیږی.

(لکه په دوو نوموړو مالیزیایی ایالتونو کلنتان او ترنگانو کی، ترکیه کی ۱۹۹۷ م اربکان ته الجزایر کی ۱۹۹۲ اسلامی جبهی ته په گران هیواد کی د طالبانو اسلامی تحریک ته او دا اوس اوس د نایجریا دوو دری ولایتونو کی د شریعت نافذیدل بلکی لله الحمد په ټوله نړی کی ورو، ورو اوس اوس د احیا اسلام خوځښتونو ته لاره اواریږی خو چی دوی د غربی سبوتاژ کوونکی تحریک په مقابله کی خپل جامع حکمت عملی منصوبی او لازم تدابیر پکار واچوی.

روند اعمار و باز سازي در موسسات ...

تاسيسات و بنياد هاي مربوط وزارت تحصيلات عالي و مسلكي در جريان درگيري هاي بي مفهوم اخير نيرو هاي درگير در كابل يا كاملاً منهدم و به مخروبه تبديل گرديدند و يا هم خسارات هنگفت و جبران ناپذير را متقبل شدند كه خوشبختانه با پيروزي تحريك اسلامي طالبان و تأسيس امارت اسلامي افغانستان مقامات بلند پايه ا.ا.ا ترميم و باز سازي تاسيسات عام المنفعه كشور را در صدر وظايف و برنامه هاي كاري خويش قرار داده و در اين راستا تا كنون گامهاي مثبت و قابل قدري رابرداشته اند كه اعمار مجدد و باز سازي تاسيسات تحصيلات عالي و مسلكي مظهر و نمايانگر بسيار خوب و شاهد اين مدعاي ماست.

اگر چه كار هاي ترميماتي اين موسسات عملاً از آغاز سال ۱۳۷۲ بدينسو جريان دارد ولي با پيروزي ا.ا.ا به اين امر توجه جدي صورت گرفته و از نيمه اول سال ۱۳۷۵ بدينسو شدت فوق العاده كسب نموده است كار هاي كه تا كنون صورت پذيرفته و يا در جريان است عبارت از : تامين جريان برق به ساير قسمت هاي داخلي و خارجي پوهنتون كابل احياي مجدد شبكه داخلي آبرساني

و تامين آب صحي به تمام بخش هاي پوهنتون كابل، ترميم و باز سازي ساختمانهاي مقر رياست پوهنتون كابل، پوهنځي حقوق، ژورناليزم و كفتريا پوهنځي هاي اقتصاد، ادبيات و دو بلاك رهايشي كه فعلاً فاميل هاي استادان در آن سكونت دارند. تكميل و به بهره برداري سپردن پروژه ترانسپورت، تحويلخانه و تعميرات مربوط به نشرات پوهنتون كابل، پروژه عايق كاري سقف تعميرات انستيتوت پولي تخنيك، پروژه تربيه معلم روشان مربوط به انستيتوت پيدا گوژي كابل و يك بخش ازتعميرات مقر وزارت تحصيلات عالي و مسلكي.

البته بودجه كه در كار عمران و باز سازي اين تاسيسات به مصرف ميرسد از بودجه انكشافي ا.ا.ا تمويل ميگردد.

وي ميافزايد : پلان هاي بعدي ما عبارت اند از : ترميم باز سازي و فعال ساختن پوهنځي فارمسي، مركز كمپيوتر پوهنتون كابل، پوهنتون دعوت و جهاد، احياي سيستم مركز گرمي موسسات تحصيلي احياي مجدد يك باب برج برق در انستيتوت پول تخنيك ، دو باب برج برق در پوهنتون كابل، احياي شبكه يا كاناليزاسيون پولي

تخنيك پوهنتون كابل، دعوت و جهاد و احياي مجدد سيستم آبرساني پولي تخنيك كال،

نامبرده افزودند : در كار ترميماتي ساختمانهاي پولي تخنيك كابل دستگاه هاي ساختماني بنايي، تهيه مسكن و آريانا عقد قرارداد نموده و تا كنون در مجموع ٦٠ ٪ كار ساختماني و ترميماتي خويش را به پيش برده اند. پروژه پوهنتون دعوت و جهاد كه با دستگاه ساختماني افغاني عقد قرار داد شده است تا كنون ٤٠٪ كار هاي خويش را انجام داده اند و كار ترميماتي بلاك هاي رهايشي استادان پولي تخنيك كابل ۳۰٪ تكميل گرديده است همچنان ليليه پوهنتون كابل ۷۰٪ ، مسجد شريف جامع ٤۰٪ ، پوهنځي وترنري و جيولوژي ۳۰٪ ، كتابخانه مركزي ۹۰٪، پروژه پيدا گوژي واقع دارلامان ٤۰٪ ، پوهنځي انجنيري ۸۰٪، جمنازيوم و اديتوريم ۸٥٪، پروژه تربيت بدني ۹۰٪ ، كلنيك صحي استادان و محصلان كه كار ترميماتي آن ۹۰٪ و ساختماني آن ٤۰٪ ، تخنيكم الكترو ميخانيكي كابل در حدود ٥۰٪ و پروژه دفتر داري و تدريسي پوهنتون ننگرهار ۳۰٪ تكميل گرديده است .

قابل ياد آوريست كه تا كنون

جريان برق، و آب در پوهنتون، پولي تخنيك ، پوهنتون دعوت و جهاد و مركز وزارت تحصيلات عالي تامين گرديده است. و سيستم مركز گرمي كتابخانه پوهنتون ۱۰۰٪ تكميل گرديده و كار ترميماتي مركز گرمي پوهنځي هاي انجنيري، اقتصاد، ادبيات، حقوق، ژورناليزم و مقر رياست پوهنتون كابل در جريان است . قابل ياد آوريست كه علاوه از كار باز سازي تاسيسات مركزي در يك تعداد از ولايات نيز اينكار جريان داشته كه از آنجمله ترميم پوهنتون و انستيتوت پيداگوژي ننگرهار را ميتوان نام برد.

در اخير محترم مولوي فضل الرحمن رئيس پلان وزارت تحصيلات عالي و مسلكي خاطر نشان ساختند كه مجموع مصارفات كه از آغاز سال ۱۳۷۲ الي ختم سال ۱۳۷۸ در اين راستا صورت گرفته (۷۸٦۹٤۷٦۰۹۲۰) افغاني را احتوا ميكند كه از جمله مبلغ (٥۳۹٤٦۷٦۰۲۸۷) افغاني بعد از تاسيس امارت اسلامي افغانستان در اين عرصه به مصرف رسيده است.

قابل ياد آوريست كه در پروژه هاي ساختماني و تعميراتي از سال ۱٤۲۰ هـ ق به اينطرف محصلين پوهنځي هاي انجنيري و پولي تخنيك كابل نيز كار هاي عملي خويش را انجام داده اند.

د دوبی په فصل کی د زړه حملی په ناروغانو کم اثر کوی

نړیوالي خبري منابع - باختر :

امریکایی څیړونکو اعلام وکړ چی د دوبی په فصل کی د زړه حملی د ناروغانو زړونو ته کم زیان رسوی.

او له نورو فصلونوڅخه په کمه اندازه د هغوی د مړینی سبب کیږی دغو څیړونکو زیاته کړه د زړه حملی د سهار لخوا له غرمی وروسته وختونو په پرتله زیاتې رامنځته کیږی.

او دغه حملی د اونۍ په لومړی ورځ د نورو ورځو په پرتله په زیاته اندازه را منځته کیږی.

روغتیا

د عسلو طبی ګټی

شات یا ګبین د زړګونو کلونو راهیسی د زخمونو ټپونو د رغولو د کولو له پاره په کارول کیږی او د اسلام په سپیڅلی کتاب قرانکریم د النحل په سوره کی هم د ګبینو شفایی ځانګړتیاوی یادی شویدی خو اوس په استرالیا کی نوی څیړنه شوی چی ځینی شات یا ګبین بکتریا ضد ځانګړتیاوی لری. دغه څیړنی ښودلی شی ګبین هغه بکتریا وی وژلی چی د جراحی یا عملیاتو زخمونه خرابوی. یو ماهر ساینس پوه قرون فایدر په خپل ریوټ کی وایی چی د لرغونی یونان حکیم ارسطو د یو شمیر ناروغیو له پاره د ګبینو سپارښتنه کړیده . ددی تر څنګ په لرغونی مصر کی هم عسل په یو شمیر درملو کی د یوه توکی په ډول کارول کیدل. په دی زمانه کی هم شات په افریقا انګلستان او منځنی ختیځ کی په لویه کچه د درملو په توګه استعمالیږی او د ټپونو د جوړولو او د هغو له خرابیدو څخه د ژغورلو له پاره ورته زیات ارزښت ورکول کیږی.

په شاتو کی یو داسی انزایم یا هغه ماده چی په ژوو او ونو کی کیمیاوی بدلون ګرندی کوی شته چی مچمچی یی د ګلانو د شیری سره له خپله ارخه کډوی او دغه مـوادچی کله د یوری او اوبو سـره ګـډ شی د یوه تعـامل په نتیـجـه کی د هایدروجن پراکسـاید یوه کمزوری بڼه جوړوی چی د میکروب ضد خاصیت لری. ګبین تیلو کاتر ، ګلدن تیپ نومی بکتریا هم وژنی دغه بکتریا په تولو نړی کی هر ځای شتـه او په روغتـونونو کی یوه موجوده سـتونزه ده ځکه تر جراحی وروسته دغه بکتریا وی پر ټپونو حمله کوی او د ټپونو په بیا جوړونه کی خنډ جوړیږی.

په سډنی پوهنتون کی د څیړونکو څخه یوی ډاکتری شانا بلیر دامیندلی چی د منو ګبین دغه شان بکتریاوی وژنی جینو بش نومی ګبین په استرالیا کی د پتو سپرم نومی ونی د ګلانو څخه لاس ته راځی.

ډاکتره بلیر وایی دا لازمه نه ده چی په جینو بش ډول ګبینو کی د بکتریا ضد ځانګړتیاوی څنګه راغلی خو دا اوس غواړی چی د ناسور له پاره د دوه ګیزی درملی په ځای ګبین وکاروی که چیری دغه آزموینه بریالی شی نو له ګبین څخه به په روغتونونو کی د یوه مهم توکی په ځای استعمال پیل شی.

د سګریټ څکول د سترګو لپاره زیات زیانمن دی

نړیوالي خبري منابع - باختر :

د سګرټو څکول د سترګو د سلامتیا لپاره ډیر زیانمن ثابت شویدی.

استرالیایی څیړونکی وایی : د سپین ږیرو او زیات عمر لرونکو افرادو تر منځ د سترګو د ړندیدو له هری پینځی څخه یوه پینبه یی په ځوانی کی د دخانیاتو د استعمالولو زیږنده ده او ټولو خلکو ته په دی باب د معلوماتو د ورکولو لپاره باید دغه ټکی د سګرټو په پاکټونو باندی څرګند شی.

د سډنی پوهنتون څیړونکی وایی څیړنو تل د سګرټو استعمـالول د سترګو د حلقو او د اغونو په بدلون کی د ژوندانه د چاپریال د خطر د ډیر سـتـر عـامل په توګـه پیژندلی دی.

د سترګو په حلقو او داغونو کی بدلون د استرالیا د زیات عمر لرونکو کسانو تر منځ د سترګو د ړندیدو ډیر مهم علت بلل کیږی.

دغه څیړونکی اټکل کوی چی لږ تر لږه اته زره دوه سوه تنو استرالیایی اتباعو د سګرټو داستعمالولو له امله خپلی سترګی له لاسه ورکړیدی.

دانسان د اوښکو ترکیبات کولی شی د سرطان ناروغی مخنیوی وکړی

نړیوالي خبري منابع - باختر :

یوی ډلی استرالیایی پوهانو اعلام کړیدی چی د انسـان په اوښکو کی موجود ترکیبات کولی شی د افـرادو په بدن کی د سـرطان د ناروغی شـتـه والی مشخص کړی .

دغو پوهانو چی د طبی عینکو یا سترګیو په استـفاده کوونکو کی د اوښکو د توئیدو د علت په باب څیـړنی کـولی په ناڅاپی ډول د افـرادو د اښکو بیلا بیلو ترتیباتو ته متوجه شول.

د دوی د څیـړنو دوام وښودله چی د ځینو افرادو اوښکی د الجی په نامــه یو ډول پروتیـن لری په دغوافرادو باندی د ازمایښت په تر سره کولو سره یی نتیـجه تر لاسه کړه چی دوی د سینی په سرطان یا پروستـات اختـه دی او یا دوی په کورنی کی په دی ناروغی د اخته کیدو سابقه لری.

د انسـان اوښکی په حقیـقت کی له وینو څخه پاکی شوی مایع دی چی سترګو ته له رسیدو مخکی د اوښکو له غدی څخه تیریږی په اوښکو کی موجود ترکیـبات کـولی شی څو ډوله سـرطان په لومړنیو پړاوونو کی وپیژنی او د ناروغانو د ژغورنی سبب شی.

د انسان په سر کی دوه ډوله تفکر موجود دی

نړیوالي خبري منابع - باختر :

څیړنیزو طبی پوهانو د انسان د ماغزو په جلا کولو سره کشف کړه چی د هر انسـان په سر کی دوه ډوله بیلا بیل تفکر موجود دی. د انسـان د سر ښی نیمه کړی د کیڼی کړی له نیمایی څخه درنده ده او زیاتی پیچلتیاوی لری. د انسـان د مغزو نیمه کیڼه کوره زیاته اندازه خړ رنګه مواد لری او د نیمی کیڼی کړی په نسبت په زیات فریکانس او کم نوسان سره فـعـالیت کـوی. په همـدی اساس څیـړونکو نوی لاری چاری پیدا کړیدی چی د هغو په مرستـه په پرله پسی ډول انســان د مغـزو د کیڼی نیمی کړی او د ښی نیـمی کړی عملونه څیږی . نتیجه دا شوه هر هغه شخص په دی پوری تړ لی چی دده د مغزو کومه نیمه کړه په فعالیت بوخته ده په بیره خپل حالت بدلوی. کله چی د مغزو نیمه کیڼه کړه کار نه کوی په شخص باندی د ژوری ستړتیا حالت واکمن کیږی او کله چی د مغزو ښی نیمه کړه له فعالیت څخه پاتی کیږی نتـیجه بر عکس وی . په دی حالت کی شخص خـاندی او هیله او خوشبینی وربـاندی واکمنه کیږی.

اوله هری نیـمی کړی سره د زباتي استفادی په نتیجه کی د افرادو په روحیه اخلاق او کړو وړو کی د زیاتو بدلونونو سبب کیږی. ویل کیږی ښی نیمه کړه د هغو تجربو ځای دی چی په تیرو وختو کی کشف شوی او له حال او تیرو وختونو سره زیات سرو کار لری .

او کیڼه نیمه دایره د هغو پیژندګلویو او خبرتیا وو ځای دی چی بشـر له حال او راتلونکی سـره مربوط کـوی. په دی اساس انسـان هلی ځلی کوی چی د خپلو مغزو له نیم دایرو څخه استفاده وکړی.

د اصحابو د ژوند پلوشي

لیکوال : دکتور عبدالرحمن رافت باشا　ژباړن : بشار　**۱۷**

: ای ابوایوبه ! دغه بوټی ژر قـاطـمی ته یوسـه چی هغی له څو ورځو راهیـسی داسی څه ندی لیدلی. کله چی هغـو ډوډی وخوړله ، او مـاړه شـول نو حضـرت پیـغـمـبر «ص» وویل : ډوډی ، غوښه ، وچه خرما ، پخوالی ته نژدی شوی خرما ، او پخه تازه خرما . په دغه وخت کی د حضـرت پیغمبر «ص» سترګو اوښکې وکړی او بیایی وویل : زما دی په هغه ذات سوګند وی چی زما نفس د هغه په واک دی دا هغه نعمت دی چی د قیامت په ورځ ور څخه پوښتل کیږی نو کله چی دا ومومی او په لاسو یی خوری نو ووایی : «بسم الله» او بیا چی ماړه شوی نو ووای : «الحمد لله الذی هو اشبعنا ...یعنی ټولی ثناوی هغه ذات لره دی چی هغه ماړه کړلو او پر موږ یی انعام او فضـل کړی دی. بیا حضرت پیغمبر «ص» پاڅید ، او ابوایوب ته یی وویل : سبا موږ ته راشه . چا چی به د حضـرت پیـغمبر «ص» سره ښیګڼه وکړه نو هغه به د ښیګڼی په بدل کی مکافات ورکول ، ولی ابو ایوب د حضرت پیغمبر «ص» خبره وانه وریدله. بیا عمر «رض» ابوایوب ته وویل : ای ابو ایوبه! حضـرت پیغمبر «ص» تاته امر کوی چی ته به سبا ورته راشی. ابو ایوب وویل : په سر او سـترګو زه به رسـول الله «ص» ته ورشم کله چی سبا شو ابو ایوب حضـرت پیـغـمبر «ص» ته ورغی او هغـه ورته د خدمت وینځه ورکړه او ورته یی وویل : ای ابو ایوبه! د هغی په باب زما د خیر خواهی نصیحت قبول کړه ځکه څو چی هغه موږ سره وه ، له هغی څخه مو یی له خیره بل څه ندی لیدلی. ابو ایوب د خدمتګاری وینځی سره کور ته ستون شو کله چی په وینځی باندی د ابوب د مور سترګی ولګیدلی نو ویی ویل : ای ابو ایوبه دا د چا ده ؟ هغه وویل : دغه وینځه موږ ته رسول الله «ص» را کړی ده هغی وویل : څومره لوی بخښونکی دی او څومره ښه ورکړه ده هغه وویل رسول الله «ص» د هغی په باب موږ ته وصیت کړی دی. هغی وویل : څه وکړو څو چی د رسول الله «ص» وصیت عملی شی ؟ هغه وویل : په خدای سوګند ، د رسول الله «ص» د وصیت په مقابل کی به د اوښم چی هغه ازاده کړمه . هغی وویل : سمه خبره دی وکړه ته موفق یی بیا هغه وینځه ازاده کړه .

دا د سولی په ساحه کی د ابو ایوب د ژوندانه ځینی حالات و که ته ددی وخت ومومی چی د هغه د ژوندانه ځینی حالات په جنګ کی ووینی نو ته به ډیر عجایب ووینی.

ابو ایوب پخپل ټول ژوند کی غازی و تر دی چی ویل شوی دی : هغه له هیڅ غزا څخه چی مسلمانانو د رسول الله «ص» له وخت څخه د معاویه تر وخته کړی وروسته پاتی شوی ندی مګر دا چی په بله غزا کی به یی ګډون درلود . د ابو ایوب وروستنی غزا هغه ده چی معاویه د خپل زوی یزید په مشری یو لښکر د قسطنطنیی د فتحه کولو لپاره لیږلی ، او ابو ایوب په دی غزا کی اتیا کلن سپین ږیری و او هغه ددی پروا ونکړه چی د یزید د بیرغ لاندی روان شی ، او د سمندر په څپو کی د خدای په لاره کی د غازی په حیث حرکت وکړی. ډیر وخت لانه و تیر شوی چی ابو ایوب ته د دښمنانو د کورونو په سیمه کی ناروغی پیښه شوه او پیښه شوی ناروغتیا د هغه د جهاد د دوام مانع وګرځید. په دغه وخت کی یزید راغی او ور څخه یی داسی پوښتنه وکړه : ای ابو ایوبه! ایا څه حاجت لری ؟

هغه وویل : زما هیله دا ده چی د مسـلمانانو پر لښکر زما سلام وکړی ، او هغو ته ووایی : ابو ایوب تاسی ته وصیت کوی چی څومره وسه وی د دښمن په ځمکه کی مخ په وړاندی ولاړ شی ، او هغه د ځان سره واخلی او د خپلو قدمو لاندی د قسـطنطنیی د دیوالو تر څنګ یی خښ کړی. بیا هغه سپیڅلی سلګی ووهلی ، او د فانی دنیا څخه یی سترګی پټی کړی.

د مسـلمانانو لښکر د رسو الله «ص» د ملګری په غوښتنی عمل وکړ ، دد ښمـ[illegible] لښکر باندی یی پر له پسی برغلونه وکړل تر دی چی د قسـطنطنیی دیوالونو ته ورسـیدل ، او ابو ایوب یی د ځان سره اخستی و او په هماغه ځای کی یی ورته قبر وویست ، او په کی خښ یی کړ .

خدای دی په ابوایوب باندی ورحمیږی هغه په ډیي خوښ وچی د جنګی آسونو پر شا د خدای په لاره کی غزا وکړی هغه په دغه وخت کی اتیا کلنی ته رسیدلی و .

پاتی لری

OMAR International

ماین خبرتیا او ژغورنه

د پټ دښمن څرګند ګواښونه ۲

اومر نړیواله موسسه د خبرونو ځانګه

۱- د روسی پوځیـــانو له برغل وروسته :

په دغـه مـوده کی د مـاین ایښـودلو عـملیـه د روسی پوځیـانو او مشـاورینو له خوا تر سـره کیـده ، رژیمـونه د ماینونو له کیفی او کمی اړخونو نا خبره ساتل کیدل ، کوم رسمی سند ، مدرک ، نقشه او شمیرنه یی اړونده ارګـانونو ته نه ده ورکـړی ، ځکه خـو یی څرنګوالی ، سـاحـه ، ځانګړنی او دقیق شمیر نا څرګند دی.

ددغـه مـهـال ماینونه ، له سـرحـدی پولو ، لوړو او حاکمو نقطو (د مجاهدینو تر کنترول لاندی سیمو کی د لویو د څیزونو او نورو بښو له هیوادڅپاره شوی ماینونو) نه پیل او د ښارونو په خوا غـځـیدلی دی له پوځی پوسـتـو او قطعـاتو نه د پوځیـانو د تیښتی د مخنیوی په لار کی هم په ماینونو استفاده شوی له دی سر بیره لویی او فرعی لاری ځړځابونه ، د اوبو زیرمی ، کـرنیـزه ځمکی او د پوځیـانو د لنډ مهال غـونډیدو ساحی یکی شاملی دی.

۲- د روسی پـوځـونـو لـه وتـلـو وروسته :

دغـه وخت خـاد ، څارونـدوی او وسله والو ځواکـونو په بیـلا بیلو بڼـو د مـاین ایښودنی عـملیـه غـځولی او له خپل منځی تفاهم پرته یی په بیـلا بیلو سیـمـو کی په لکونو ماینونه غورولی دی ، د ملیشـو بیـلا بیلو ډلو هم دغـه لړی پراخـه کـړی ده چی خپلـری بڼه یی لرلی او کوم اسناد نقشی او ریوټ یی نه دی پری ایښی.

۳- دریم پړاو د رژیم لـه نـسـکوریدو وروستـه د سیـالو ډلو تر منځ له جګړو سره پیلـیږی دغـه لړی له پلازمـینی پیل او نورو سـمو ته غزیدلی چی د کـیـفیـت له اړخه د مـاین ایښـودنی تر ټولو ګواښنده پړاو ګـڼل کـیږی ، چی قـربـانیـان یی هم له یوی مـخی ولـسـی وګړی ګڼل شوی دی.

دلته و چی پر پوځی زیرمو د بیلا بیلو ډلو لاس بر شـو ، مـاینونه او چاودیدونکی مهمات د هر چا لاس ته ورسیدل او هغوی هم په بی دریغه توګه وکارول.

مــــاین یو خطرناک او ګـــواښنده چاودونکی شی دی چی د ځمکی پر سر یا دننه ایښـودل کـیـږی د ژوو (انسـانانو او حیـوانانو) او ګـاډو (نقلیـه وسـایطو) د مړینی ، ژوبلیدو او زیانمنیدو سبب ګرځی د ماینونو قربانیان په ســـلو کی ۹۰ ولـسی وګړی ګڼل شوی ، ځکه پوځی او جنګی ډلی د ځینو مـهـارتونو او وسـایلو له مخی کولای شی تر یوی کچی د ماینونو له ګواښ نه ځانونه خونده کړی ، دوی له ماتی ، په شاتګ او پرمختګ سره په ماینونو ککړی سیمی پریږدی چی ولسی وګړی د ناخبری له امله له مرګ ژوبلی سره مخـامخ کـوی ، له همـدی ځایه مـاین کـه څه هم یوه خطرناکـه پوځی وسـیله ده خو قـربانیـان یی ولسـی او بیګناه وګړی تشکیلوی.

په ټولیــزه توګـه تر اوســه ۳۵۰ ډوله ماینونه پیژندل شوی چی زموږ په هیواد کی یی ۵۵ ډوله کـارول شـوی خـو په عـمـومی توګه دوه ډولیز څرنګوالی لری :

۱- د لیږدوونکو وسایطو ضد ماینونه

۲- د ژوو ضد ماینونه

مـــاینونه د جنګی اړخــونو له خــوا د امنیتی پوستو ، کمربندونو او تلو راتلو په ټولو لوبو او فـرعی لارو ایښـودل کـیـږی ، له الوتکو هم په بیلا بیلو بڼو خپ[illegible] د ځانګړو مـاشـینونو په [illegible] ایښـودل کیږی چی بیلا بیلی ، کچی ، بڼی او رنګونه لری د ژوو ضد ماینونه تر پنځوس متری او د ګاډو ضد یی تر ۲۰۰ مترو [illegible] مرګ ژوبلی او زیانمنیدو باعث ګرځی .

د ماینونو جنګ د کلونو او لسیزو جنګ دی دغـه جنګ دوست دښـمـن ، وور ، زوړ نه پیژنی یواځی مرګ پیژنی ، ژوبله پیژنی او د ویر او ماتم ساندی پیژنی.

مـاینونه عـمـومـاً د چاودنی لپـاره یو فیـوز او یو څه چـاودونکی مواد (باروت) لری چی په پنځو ډولونو چـــاودنه را منځ ته کوی :

نوربیا

تدقیق و تثبیت حقوق امارت و ملت در محور اهداف ...

میدهد و اکثراً از حقوق املاک و ثروت هاي امارت، در پیشگاه محاکم دفاع و حراست مینماید.

محترم رئیس قضایای امارتي ولایت هرات در پاسخ به این پرسش که به ملاحظه تحولات سریع اجتماعي و ایجاد برخي نهاد هاي جدید این ریاست چگونه در چار چوب مقررات اجراات خویشرا عیار میسازد؟ گفت :

اخیراً مدیریت هاي وکلاي مدافع ، عریضه نویسان و مدیریت رهنماي معاملات در تشکیل این ریاست گنجانیده شده که علاوه بر توزیع جواز کار براي اشخاص و اجد شرایط از پیشبرد امور یومیه آنها نیز مراقبت بعمل مي آورد این امر به آنعده از هموطنان متدین ما که از انجام معاملات ، شکایت احتمالي داشته باشند کمك میکند و همچنان به پیروي از فرامین امارت اسلامي نماینده این ریاست عموماً در جریان عقد قرار داد ها میان افراد و امارت اسلامي و یا اجاره اراضي و سایر ملکیت ها اشتراك فعال دارند.

محترم ملا رحم الله امین افزودند :

در طي سالجاري دوسیه هاي زیادي از طریق موسسات و ادارات امارتي به این ریاست مواصلت ورزیده که در بخش هاي مسلکي تحت غور و بررسي دقیق قرار گرفته عده از آنها با فیصله هاي شرعي فرجام یافته و عده دیگري از این دوسیه ها تحت مطالعه قرار دارند.

محترم رئیس قضاياي امارتي در اخیر این گفتگوي مطبوعاتي از عموم مردم متدین حوزه شمالغرب تقاضا نمود تا معلومات شانرا در باره غصب و تملك غیر قانوني املاك و ثروت هاي امارت توسط افراد متمرد در اختیار اینریاست قرار داده و سهم شرعي و میهني شانرا در این امر ثواب بجا آورند.

عطا محمد فریادي

تیم فوتبال پامیر ...

افغان مقیم اسلام آباد انجام داد بازي را چهار مقابل صفر به نفع خویش به پایان رسانید.

این مسابقه در حالي صورت گرفت که از طرف هزاران نفر از شهریان کابل و عده از مسوولین امارتي تماشا و مورد تشویق قرار گرفتند.

این مسابقه زماني جالب هیجاني و مورد تشویق تماشاچیان قرار گرفت که فوتبالران تیم پامیر با جدیت کامل و اجراي تکتیك هاي عالي ورزشي بالاي دروازه گول جانب مقابل ضربات پیهم توپ را وارد آورده و در لحظات اخیر مسابقه هارون ورزشکار تیم پامیر چهارمین بار دروازه گول تیم مهاجرین مقیم اسلام آباد را با اجراي تکتیك خاص به لرزه در آورد و در نتیجه مسابقه چهار مقابل صفر به پایان رسید.

د لبنان په سرحدي ...

په خبر کی ویل شوی دی چی د ملگرو ملتو د سازمان د سرمنشی استازی راب کاتسن ددغی سیمی د کتنی په ترڅ کی په دی سیمه کی د ملگرو ملتو د سازمان د سولی ساتنی د پوځ له قوماندان سره خبری اتری کړی دی.

په عین حال کی د لبنان په جنوب کی د حزب الله د سازمان مسؤل هم د صهیونستی رژیم له خوا د کړکیچ د پیدا کیدو په غبر گون کی دغه رژیم ته خبر داری ورکړی دی او ویلی یی دی چی اسلامی مقاومت د لبنان د جنوب حالات په غور سره څاری او د هر راز تیری په وړاندی به مقابله وکړی.

یوه اندازه وسلي ...

ماشینگڼه یو اگه اس ، یوه سپکه ماشینگڼه دوه دوربینونه ، د اگه اس پنځه سوه اته پنځوس گولی او د کلاشینکوف څه د پاسه څلور زره گولی شته چی په مهارت سره په یو موټر کی ځای پر ځای کړای شوی و د سرخکانو په پوسته کی د امنیتی موظفینو له خوا چی د کابل جلال آباد د لویی لاری په اوږدو کی موقعیت لری کشف او تر لاسه شول.

مقامات جاپان به اهالي جزیره میاکي دستور خروج دادند

منابع خبري بین المللي :

مقامات جاپان دیروز یکبار دیگر به بقیه یي اهالي جزیره میاکي جیماي آنکشور دستور داد که به علت خطرات وقوع آتش فشان فوراً آن جزیره را ترك نمایند.

بر اساس گزارشهاي منابع خبري بین المللي متخصصین آتش فشان در جاپان گفته اند که ظرف هفته هاي اخیر تکان هاي پیهم زلزله نیز در آن جزیره احساس شده است. مقامات جاپان قبلاً نیز به اهالي جزیره میاکي جیما را دستور داده بودند که از آنجا خارج شده و به جا هاي مصؤن پناه ببرند ولي با این هم عده ا ز مردم آن جزیره تا هنوز هم در آنجا باقي مانده اند

په افغانستان کي هره ورځ..

افغانستان یو داسی ملک دی چی په ټوله نړی کی تر بل هر ملکه ډیر زیات ماینونه په کی ښخ دی.

ملگری ملتونه وایی چی په هره میاشت کی په دغو ماینونو باندی لږ تر لږه دری سوه کسه مړه یا ژوبل کیږی، د ملگرو ملتو د ماین پاکولو پروگرام په نړی کی تر ټولو پخوانی او پراخ پروگرام دی چی تر اوسه یی یو ملیون او دوه سوه زره ماینونه را ایستلی او د افغانستان څخه یی څه د پاسه یو ملیون ماینونه لری کړی او ډیر خلک یی روزلی دی چی د دغو ماینونو په هکله معلومات تر لاسه کړی.

د شهیدانو دارالعلوم...

سبز په ولسوالی کی جوړه شوی وه یو شمیر علمای کرامو د وزارتونو او امارتی ادارو ځینو مسوولینو او ددغی ولسوالی گڼ شمیر اوسیدونکو برخه اخستی وه .

په دی غونډه کی د پوهنی وزارت د اسلامی زده کړو معین محترم مولوی فضل الرحمٰن حنیف د اطلاعاتو او کلتور وزارت کلتوری معین محترم مولوی عبدالرحمن احمد هوتک ، د کابل ولایت کفیل محترم مولوی اصحاب الدین دلاور، دده سبز ولسوال محترم مولوی سید محمد نسیم حقانی ، یو تن جهادی قوماندان محترم محمد گل ناصری او یو شمیر علمای کرامو او تولنیزو او فرهنگی شخصیتونو د مدرسو دارالعلومونو او د تعلیمی مرکزونو د جوړولو په باره کی خبری وکړی او زیاته یی کړه د هیواد زیاتره تعلیمی او روزنیز مرکزونه په افغانستان باندی د وخت د شوروی تیری او یرغل په دوران کی ویجاړ او یا له منځه تللی دی او هم پر دی فرهنگ زموږ د هیواد تعلیمی سیستم ته لاره پیدا کړه او اوس د اسلامی امارت چارواکی په پر له پسی توگه هلی ځلی کوی چی په موجودو امکاناتو سره اسلامی تعلیمی مرکزونو ته پراختیا ورکړی.

د یو مسوول خبر ځای د خبر له مخی دده سبز د شهیدانو دارالعلوم د څلور جریبه ځمکی په ساحه کی په پاخه او اساسی دول چی در ویشت تدریسی او اداری خونی لری د هیواد د یو تن معارف دوست شخصیت محترم مولوی عبدالمنان له خوا د اته زره لکو افغانیو په ټول لگښت جوړ شوی دی چی همدا اوس پنځه شپیته تنه طالب العلمان د دینی علومو په زده کړه بوخت دی او اعاشه او اباته یی د کابل ولایت د پوهنی ریاست له خوا برابریږی.

یك محراب مسجد ...

محترم مولوي خلیل الله فیروزي رئیس عمومي اکادمي علوم در رابطه به اعمار مساجد و اماکن مقدسه در کشور صحبت نموده از کمك مردم آن منطقه جهت اعمار مسجد مذکور ابراز قدرداني نمود.

در ولسوالي ژشکردره ...

چرس زرع گردیده بود پاکسازي نموده و به زارعین آن توصیه لازم شرعي نمود.

طبق یك خبر دیگر ساحه دو جریب زمین اخیراً در مربوطات ولسوالي نوزاد ولایت هلمند توسط موظفین ریاست امر بالمعروف و نهي عن المنکر آنولایت از بته هاي چرس پاکسازي گردید.

قوماندان سید علي با ...

قوماندان سید علي همراه با بیست تن از افراد مسلح خویش در مربوطات ولسوالي نهرین ولایت بغلان با مجاهدین اردوي اسلامي مستقر در آن ولسوالي یکجا گردید.

از پیوستن قوماندان مذکور محترم ملا عبدالباقي مسوول نظامي نهرین استقبال بعمل آورد.

از طرف بورد انسجام ...

خصوصي بشمول اکثریت اعضاي دایمي بورد انسجام دایر گردید.

درین جلسه ایجاد بیست و نه پروژه تولیدي و خدماتي از قبیل پروژه هاي قالین باقي ، قالین شویي، یخ سازي ، طباعتي، مخابراتي ، چاکلیت سازي، مصنوعات پلاستیکي، مهندسي و انجنیري تولید مواد ساختماني ، روغن و صابون سازي، بافندگي ، مشروبات غیر الکولي و غیره به سرمایه ابتدایي مبلغ چهل ملیارد و نود و یك ملیون افغاني و سرمایه انتهایي مبلغ ششصد و شش ملیارد و دو صدو شصت و سه ملیون افغاني مورد تایید بورد انسجام قرار گرفت .

با ایجاد و فعالیت این پروژه ها براي تعداد ۱۳۱۵ تن از هموطنان ما زمینه کار وفعالیت آماده میگردد.

امریکا له صهیونیست...

رژیم باندی د لیری واټن ویشتونکو توغندیو برید وکړی.

د امریکا د متحده ایالاتو ورځپاڼو پرون داسی مطالب خپاره کړل چی په هغو کی ویل شوی دی د امریکا دولت اندیښنه لری چی عراق به د امریکا د جمهوری ریاست د انتخاباتو په بهیر کی په صهیونستی رژیم باندی د لری واټن د توغندیو برید وکړی.

د امریکا متحده ایالات غواړی په منځنی ختیځ کی صهیونستی رژیم په بیلا بیلو پلمو وسله وال او سمبال کړی او په دی ترتیب خپل پلانونه عملی کړی چی له دی لاری د خپلو گټو په تر لاسه کولو بریالی شی.

د گوون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

معاون شاروالي ژنیو از مراکز فرهنگي ...

ارکس ورنن اني میبري معاون اول شاروالي ژنیو تلاش هاي بي حد و حصر مسوولین امارتي به ویژه وزارت اطلاعات و کلتور امارت اسلامي را در امر احیاي دو باره موزیم قابل ملاحظه خوانده گفت : مطالعه آثار قدیم در موزیم کابل نه تنها اینکه نیازمند وقت کافي میباشد بلکه دقت و توجه عمیق میخواهد زیر آثار قدیم در این موزیم به دوره هاي مختلف تقسیم شده توقع ما اینست که مسوولین کلتوري بیش از این مصدر خدمت به وطن و مردم خویش شوند تا در غنامندي موزیم کابل به توفیقات مزید دست یابند.

بعداً کتابهاي که بیانگر هویت و معرفي کامل آثار موزیم میباشد توسط محترم عمراخان مسعودي معاون موزیم کابل به رئیس و اعضاي هیأت کشور سویس اهدا گردید.

همچنان هیأت متذکره بعد از بازدید از موزیم کابل از منار تاریخي عبدالوکیل خان ، گالري ملي و مقبره عبدالرحمن خان نیز باز دید بعمل آوردند.

هیأت موصوف در جریان بازدید از گالري ملي با محترم مولوي عبدالرحمن احمد هوتك معین کلتوري وزارت اطلاعات و کلتور ملاقات نموده که در جریان ملاقات محترم معین کلتوري وزارت اطلاعات و کلتور ضمن آنکه از چگونگي احیا و ترمیم دو باره موزیم ، منار عبدالوکیل خان مسجد سید جمال الدین افغان مشهور به مسجد پخته فروشي و سایر آبده هاي تاریخي در کشور معلومات مفصلي به هیأت متذکره ارائه نمود راجع به آثار و غنایم فرهنگي گالري ملي که بالاثر تلاش هاي مسوولین امارتي دو باره احیا شده و در حال باروري میباشد نیز اشاره نموده گفت : احیا و باز سازي تاسیسات فرهنگي مستلزم همکاري هاي بي شایبه موسسات بین المللي میباشد.

ما از تمام جوامع بشري میخواهیم که از کمکهاي بشري و انساني خویش با ما دریغ نه نمایند.

معاون شاروالي سویس ضمن آنکه از صدمات بیش از حد فرهنگي در افغانستان اظهار تاسف نمود امادگي کامل کشور متبوعش را در امر احیاي اساسي موسسات فرهنگي در افغانستان ابراز داشت .

مجله فرهنگي ریاست اطلاعات و کلتور ...

معارف ، محترم ملا عبدالروف عارف والي خوست، محترم قاري بریال قوماندان فرقه ۲۵ ، محترم مولوي کلیم الرحمن فاني رئیس امر بالمعروف و نهي عن المنکر و محترم مولوي جمال شاه رئیس اطلاعات و کلتور ولایت خوست بالترتیب در رابطه به مشي فرهنگي امارت اسلامي صحبت نموده رسالت فرهنگیان و قلم به دستان را در راه تنفیذ کامل شریعت اسلامي و انعکاس خواسته هاي ملت مجاهد مان برجسته ساختند.

در این محفل که ده ها تن از شاعران ادیبان و نویسندگان اشتراك ورزیده بودند ضمن آنکه در رابطه به چگونگي نشرات مجله سه ماهه علمي و ادبي که تازه اقبال چاپ یافته روشني انداخته شد عده یي از شاعران سروده هاي شعري شانرا نیز قرائت نمودند.

مجله علمي ادبي که به همت ریاست اطلاعات و کلتور ولایت خوست در هر سه ماه یکبار به چاپ میرسد داراي ۷٤ صفحه و ۲۵ عنوان مضامین علمي ، دیني ، ادبي و فرهنگي میباشد.

چاهاي ولایت سر پل ...

ها و حوض هاي آب آشامیدني ولایت سر پل به همکاري و مساعدت سازمان صحي جهان و ریاست انکشاف دهات ولایت سر پل به منظور جلوگیري از شیوع مرض کولرا یك هفته قبل در ولایت سر پل آغاز گردید طي مدت یاد شده پنجصد حلقه چاه و حوض کلوریشن گردیده و این پروسه در ولسوالي هاي صیاد سوزمه قلعه و کوهستانات ادامه دارد.

۱۳ نفر هلاك ...

هلاك گردیدند.

طبق گزارشهاي منابع خبر رساني بین المللي سیزده عسکر حکومتي سریلانکا زماني جان سپردند که واسطه نقلیه آنان با یك ماین زمیني اصابت کرد.

این حادثه در یك شهرك شمالي آنکشور به وقوع پیوسته است دولت سریلانکا این حادثه را به شورشیان ببر هاي تامیل ایلام نسبت داده که براي کسب استقلال ایالت تامیلي نشینان با قواي مسلح حکومتي در شمال آنکشور مصروف نبرد میباشند.

این نبرد از هفده سال به اینطرف در شمال سریلانکا شعله ور باقي مانده است.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press